پوهندوی دوکتور سید حسا م «مل» .

---------------------------------

# د ما رچ ا تمه د ښځو د بین المللی ورځی په درشل کي !

******

هغو چی د ژوند اودانسا نیت د مفهوم په ټولو اړخونو باندي پوهیږي یا هغوی چی دا نسا ن شخصیت او موقف ته اهمیت ورکوی یا هغوی چی د خیر خواهی نیک سیرتـی اود متواضع او انساندوستی کرکتر لری نو د خپل درونـد شخصیت ته په درناوی اویا دخپل وقار عزت او سنګینی په ساتلو سره هڅه کوی چی دخپل خلکو اوبیا په لمړی سرکی دخپل کورنـی دغړو لکه دمور، خور، ترور، ورایندار .........عزت اوپت و سا تی اوهیڅکله دچا موقف ، شخصیت او وقار ته په سپک نظر نه ګوری اوبیا په خا صه توګه په افغا نـي ټولنه کي له هرڅه نه د ښځی موقف اومقام ته په ډیر لوړه کچه درنا وی کیږی یا دا چي ښځی ته احترام کوی کوم چي دښځی درنا وی د پښتنوالی یو له ډیر لوړ منل شوی رکن څخه دي چي حتی نورملتونه دا فغا ن د پښتونوالی په دی رکن با ندی پوره پوهیږي چی زمونږ دافغا ن پلرونو او نیکونو په تاریخ کی ثبت او ضبط شوی افسانی را پا تی دی لکه هغسی چی[دافغان اودانګلیس په لمړي جګړه کی کله چي دانګلیس کورنـی دلغما ن دالینګا ر دبد یع آباد په کلا کی د محمد شا خان تر نظارت لاندی دهغه په کلی او کلا کی ژوند کاوه نو یوه انګلیسی میرمن پخپلو خاطراتو کی یادونه کوی چي مونږ دلته په په دی ځای کی ډیر خوندی یو او مونږ ته د دی ځا ی خلکو په ډیر درنا وی ګوری او زمونږ قدر کوی او هیڅوک مونږ ته په بد و سترګو نه ګوری او افغا نا ن د خپل پښتونوالي د کرکتر په لرلو سره مونږ نه دا چی قدر اودرنا وی کیږو بلکه حتی مونږ ته د ښمن اود یوبرمته شوی او بندی کس په سترګو نه کتل کیږی داهغه څه دی کوم چي په تاریخ کی لیکل شوی دي ] اما افسوس پرهغو ناپوهوو ، جاهلو ، بی تعلیمو ،نالوستو خودخواهوو ، مستبدو ، بی ادبو ، توپک سالارو ، اشرارو ، د جاهلو عرب د کلتور ا فراطی ډلو او ټپلو

اود تمد ن څخه بیګا نه چی د خپل زمامداری په موده کی ښځی یی په کور کې بندی وسا تل اود ښځی ټول مد نی ، طبعی او حقوقی ، حقونه تر پښو لاندی کړ او په منبر او خطا بو کی په ډیر سرلوړي سره خلکو ته څرګندول چي مونږ داسلام ټول قوانین ته په درناوی سره دستا سو دخد مت لپا ره چمتو یوو، حال داچی دوی هغه بربران دی چي ښځه هغوی ته یو شخصی ما لکیت او یا ما ل ښکا ری لکه هغسی چی مونږ دغه وحشی او بر بر ډ لی ټپلی دافغانستان په تیرو لسیزو کی ولید چي د خپل زما مداری په وخت کي ښځه په متروکو باندی وهل او ښځه دحیوان اود نافص العقل په یو موجود سره توصیفول اوتر هغه چي یی وسه رسیدل دښځی موقف اومقام ته سپکا وی کول اوداځکه چي د بی فر هنګ پا کستا نی په مد رسو کي دغه شیا ن زده کړی وه یا داچی ورته لوست ورکړل شوی وه دوی هغه ګمراه اوځنا ور بر بران وه یا لاتراوسه پوري دي چي ښځه دعامه خلکو په مخامخ کي سنګساروی یعنی هغه ښځی چي دفزیولوژی دسرشتی اودطبعی وظیفوی کړنی په د ترسره کولو کي دهغو په نظر ګناهګار ګڼل کیږی دا داسی مفهوم لری چی یو په نس وړی انسان ته وویل شی چی مړی مخوره ؟
د ډیر حیراتیا خبره اوس دادي چي په دي یولسم پیړی کي دغه بربرو ډ لي ټپلی ښځي ته حق نه ورکوی چی خپل فردیت اویا خپل انسانیت د تولید په پروسه کي دیو مولد په صفت راښکاره کړي اوداځکه چی کار او تولید انسا ن له حیوانیت څخه ا نسا نیت ته راکا ږی یعنی هغو چی په ټولنه کي د ټولني په اجتماعی ، اقتصا دی ، سیا سی او فر هنګي برخو کي ونډه ونه لری نو د هغه انسا نیت نه بشپړ کیږی لکه چي د ملا او داشرار انسا نیت لا تراوسه نه دی بشپړ شوی ځکه چي دوی نه یواځی داچی د تولید په روند کي برخه نه اخلی او په ټولنه کي د پرازیت په بڼه ژوند کوی بلکه دوی نور خلک اوبیا په ځا نګړی بڼی سره ښځه نه پریږدی چي په ټولنه کي را ښکاره شي او په تولیدی چارو کی ونډه واخلی . اوس نو دا منوره قشرپوری تعلق لری چی دغه بربران وپیژنی او هغو خلکو ته معرفی کړی چی دغه پرازیتی خلک هغه نا ا نسا نا ن دی چی د نهضت اود پر مختګ مخه نیسی اوبیا په ځا نګړي بڼی سره ښځي ته اجا زه نه ورکوی چی دیو آزاد او خپلوا ک انسا ن په صفت ژوند وکړي – د لته د یا دونی وړ مطلب

دادی چی ا فغا نـی ښځه ددی بربرا نو ، اشرارو اود جها دی ټوپک سالارو په زمامداری کي هسی کړاونه وزغمل چی د بشریت په تا ریخ کی داسی د بل هیڅ هیواد ښځی نه دی زغملی نو پر ځای دی چي ووایو اوهغه داچي ا فغا نـی ښځی هغه ستر او قهرمان ښځی دی چی د هیڅ یو با وجدان سړی له نظر نه ولویږی .
نو زه ددی ټولو پورتنیو یا دونو څخه په پای کي خپل د زړه له کومی مبارکی ټول افغا نـی ښځو ته ددغه ورځـی په را رسید و سره وایم او هغوی ته دلا بریا لیتو ب هیله څرګندوم اوغواړم یاده کړم چی دغه ا فغا نـی ښځی باید دخپل حقونو دتر لاسه کولو لپاره یوشیبه هم د مبارزی څخه تر شا نشی .......په درناوی

ښځه مور ، ښځه خور ، ښځه وریندار دي
افغا نـی ښځه متین ډیر وفادار دي
په همت او په غیرت کـی بی جوړه
داحترام او درناوی ډیر سزاوار دي
د نا وړو رواجونو تل قربا نـی شوی
د جاهل ملا فتوا ورته سنګسا ر دي
تر حجاب او تور ټکری محبوس په کور
د ناپوهو واکمی کی تور روزګار د ي
اما بیا ثا بت ولاړ تینګ پخپل ځای
زغملی ترخی ورځـی په شما ر دي
ځان دی پوه که طا لب ملا اشراره
افغانی ښځی ویده نه دی بیدار دي
نور افغا ن ښځی څوک نشی رټولي
دآزاد ژوند هد ف یی معلومدار دي
د متروکو وار طا لب پری کویی نشي
اوس افغا ن ښځه د ښمن دهرجباردي
افغا نـی ښځو ته خما د (مل) سلام دي
چی ولاړپر ضد دهر ټوپک سالار دي

-------------------------------------- په درناوی